د سلطان جان کلیوال ژباړه ۲۰۲۱,۰۱,۱۳

امریکائی شاعره : مایه انجیلو (اپریل ۱۹۲۸ – می ۲۰۱۴)

# دا به لا هم وی متحد ملکونه؟

ستاسو د کار په شبکو باندی لړزه ګډه شوه

کله چې ستاسو واکمنان ورک شول

ستاسو له قهر ډکی خلاصی خولی

لا هم له خلکو احترام غواړی.

شئ بدلولی موسمونه په بمونو خپلو

له پسرلی نه هم دوزخ جوړوئ

نور څه کول غواړئ

او ولی داسی ناراحته یاستئ؟؟

تاسی د تولو په ژوند واک لرئ

له غرب نیولی بیا تر شرقه پوری

هاغه په دښتو کی بی کوره کوچیان

هم تابع کړی دی د ځان تاسو.

بحرونه هم ستاسو په امر خوځی

اسمان هم ستاسو له غونډارو ډک دی

ولی لا هم خوښ نه یاست؟


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

ولی مو لا هم ماشومان ژاړی؟

ځکه، دهشت په گونډو کړی دي دوی

ځکه، وحشت په هر قدم کی وینی

په شپه او ورځ کی د تهدید لاندی دي

نورو نسلو ته به هم ویره په میراث پرېږدی.

تاسو پراته سپینو ماڼیو کی یاست

خو له ماڼیو نه مو، خندق د زهرو جوړ دی

ځکه د خپلو ماشومانو له خولو

د لعنت چیغي اوریدلی نه شی

نو لاهم یاستئ متحد ملکونه؟

دسمبر/۲۰۲۰

کانادا



د سلطان جان کلیوال د نورو لیکنو لپاره، پر عکس کلیک وکړی.



برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com